كله چې يو سړی د ثواب په نيت په خپل اهل او عيال باندې نفقه کوي، نو دا د هغه لپاره صدقه ده

له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "كله چې يو سړی د ثواب په نيت په خپل اهل او عيال باندې نفقه کوي، نو دا د هغه لپاره صدقه ده".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې كله يو سړی په خپلې کورنۍ لګښت کوي چې نفقه يې پرې واجب ده، لکه ميرمن يې، مور او پلار يې، اولادونو يې او داسې نورو او پدې سره يې نيت الله تعالى ته نږديوالى او له هغه څخه د اجر غوښتل وي نو د نوموړي انسان لپاره دا صدقه ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6460